SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونی کي دوه ځله خپریږی

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزی نشراتی ارگان

پنځم کال نه ویشتمه گڼه پرله پسي(۳۱٦)یکشنبه د۱٤۲۱هـ ق کال د محرم الحرام (۱۸)د۱۳۷۹هـ ش کال د غوایی (٤)د۲۰۰۰میلادي کال د اپریل(۲۳)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) ډیر نږدي دی تقوا(پرهیزگاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

محترم وزیر مالیه : بانکنوت های پنجصد افغانیگی قابل چلند می باشد

بانکنوت های پنجصد افغانیگی همانند سایر بانکنوتهای افغانی تحت بانک مرکزی قرار داشته و قابل چلند می باشد

در افزودی معاشات مامورین تصمیم اتخاذ خواهد شد

محترم ملا آغا جان معتصم وزیر مالیه ضمن اظهار این مطلب در زمینه به خبرنگاران آژانس اطلاعاتی باختر گفت : تمام بانکنوتهای افغانی بشمول پنجصد افغانیگی در تضمین د افغانستان بانک شامل و در همه نقاط کشور قابل چلند بوده و با اشخاصیکه از اخذ و تبادله خود داری ورزد با ایشان برخورد قانونی صورت میگیرد . محترم وزیر مالیه پایین آمدن ارزش پول افغانی را در مقابل اسعار خارجی چاپ پولهای بدون پشتوانه و تورید آن را به کشور بطور قاچاق از طرف مخالفین امارت اسلامی دانسته و افزود : که وزارت مالیه و وزارت داخله به مسؤولین و منسوبین ذیربط خویش هدایت داده است تا از ورود پولهای بی پشتوانه مخالفین که بطور قاچاق به بازار ها وارد میگردد جلوگیری نمایند.

موصوف از فراهم آوری تسهیلات و ص ٤

د تحصیلی موسسو :

د کانکور د آزموینی نتیجی اعلان شوی

د تحصیلی موسسو د نویو شاملانو د کانکور د آزموینو نتیجی پرون په کابل پوهنتون کی اعلام شوی.

د لوړو زده کړو وزیر محترم مولوی حمد الله نعمانی د کانکور د آزموینی د نتیجو د اعلامولو په وخت کی د باختر د اطلاعاتی آژانس خبریال ته وویل د ۱٤۲۱ هجری قمری تحصیلی کال لپاره د کانکور په ازموینه کی چی پرون یی نتیجی د کابل پوهنتون د کتابتون په تالار کی اعلام شوی د هیواد د مرکز او ولایتونو له مدرسو څخه کابو شپږ زره تنه فارغانو گډون کړی و او د هغو محصلانو ویش چی په دی ازموینه کی بریالی شویدی د لیاقت استعدا د انتخاب د کارت او د پوهنځیو د ظرفیت له مخی او تخصصی کادرونو ته د تولنی له اړتیا سره سم په تحصیلی موسسو انستیتوتونو او د کابل پوهنتون په دوه اویا اختصاصی څانگو کی ترسره شویدی. ٤ مخ

اظهارات نطاق وزارت امور خارجه در رابطه به جلسه سران چهار کشور آسیای میانه

امارت اسلامی افغانستان یکبار دیگر دست دوستی به جانب همه کشور های جهان دراز مینماید

ما هرگز جانبدار تشنج در هیچ کشوری از جهان نمیباشیم

اظهارات نطاق وزارت امور خارجه امارت اسلامی افغانستان در رابطه با گرد همایی سران چهار کشور آسیای میانه در دوشنبه پایتخت تاجکستان
۱۷ محرم الحرام ۱٤۲۱ مطابق ۲۲ اپریل ۲۰۰۰
کابل

در گردهمایی سران کشور های قزاقستان قرغزستان، تاجکستان و ازبکستان که اخیراً برگذار گردید بار دیگر مسئله به اصطلاح خطر از امارت اسلامی مطرح شد و طی آن بعضی از شرکت کننده گان به دوام حمایت از مخالفین امارت اسلامی تاکید کردند.

همسایه های شمالی ما روابط برادرانه و دوستانه تاریخی با ما دارند

بصورت مشخص این مسئله هویدا نیست که عامل وحشت و ترس این جمهوری ها از امارت اسلامی افغانستان ناشی از چیست؟ امارت اسلامی با بعضی از جمهوری های آسیای میانه سرحد مشترك دارد ولی هیچگاه از این سرحدات خطری متوجه آن جمهوری ها نبوده است در عین حال امارت اسلامی بار ها روی این نکته تأکید ورزیده که هیچگونه ادعای ارضی نسبت به کشور های منطقه نداشته و هرگز جانبدار تحریك و تشنج در هیچ کشور جهان نیست.

از زمانیکه نیرو های امارت اسلامی افغانستان بخشی بزرگی از مرز های شمالی کشور را از نیرو های مخالف آزاد کرده است هیچکدام از این جمهوری ها در عمل حرکت را مشاهده نکرده اند که نمایانگر تمایل امارت اسلامی به مداخله در امور داخلی این کشور ها باشد. همسایه هاي شمالي ما ملت هاي مسلماني را شامل اند که سابقه رابط برادرانه و دوستانه میان ملت هاي ما و آنها قرن ها سابقه در دل تاریخ دارند عنوان کردن یك خطر بی بنیاد و غیر واقعی از جانب امارت اسلامی که مستند به هیچ سندی نیست هرگز نمیتواند بهانه موجه برای حمایت از مخالفین امارت اسلامی و دامن زدن به آتش جنگ در افغانستان باشد.

بعضی از این همسایگان ما تا کنون نیز با حمایت همه جانبه از مخالفین امارت اسلامی در خونهاییکه در افغانستان ریخته شده بقدر کافی دست و پنجه رنگین کرده اند ولی حاصل این کمك های آنان برای مخالفین امارت اسلامی جز شکست های پیهم نتیجهٔ در قبال نداشته است زیرا مخالفین ما از یك عامل بسیار مهم یعنی حمایت مردمی در داخل افغانستان محروم و بی ص ٤

ځلیرویشت مهاجری کورنی هیواد ته راستنی شوی

ځلیرویشت مهاجری کورنی چی یو سلو یونوی تنه یکی دی پرون د تورخم له لاری هیواد ته راستنی شوی.

د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ راستنو شویو کورنیو د ننگرهار په ولایت کی د مربوطو امارتی ادارو او په دغه ولایت کی د مهاجرینو په چارو کی د ملگرو ملتو د سازمان د کمشنری د نمایندگی د لازمو مرستو له تر لاسه کولو وروسته د ننگرهار ولایت د بیوی ولسوالی په مربوطاتو کی خپل سوله بیز ژوند پیل کړ .

په ننگرهار کی نوی جریبه ځمکه د کوکنارو له بوټو څخه پاکه شوه

د ننگرهار په ولایت کی د کوکنارو د بوټو له شتوالی څخه د کرنی د ځمکو د پاکولو د کمپاین په دوام پرون ددغه ولایت په مربوطاتو کی نوی جریبه ځمکه د کوکنارو له بوټو څخه پاکه کړای شوه .

د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ د کوکنارو د کرنی د کمیدو په اړه د عالیقدر امیر المومنین د مخکینی فرمان له مخی او د ننگرهار په ولایت کی د کوکنارو له بوټو څخه د ځمکو د پاکونی د کمپاین په دوام پرون ددغه ولایت د شینوارو او غنی خیلو د ولسوالیو په مربوطاتو کی نوی جریبه ځمکه د کوکنارو د بوټو له شته والی څخه پاکه کړای شوه .

ددغو سیمو د ځمکو په پاکولو کی د سیاه چوب د سیمی او د غنی خیلو ولسوالی د سپین ږیرو مخورو او گڼ شمیر ٤ مخ

د افغانستان د اسلامی امارت اقتصادی کمیسیون غونډه وکړه

د افغانستان د اسلامی امارت اقتصادی کمیسیون پرون غونډه وکړه د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ د اقتصادی کمیسیون په غونډه کی د پلان د وزیر محترم قاری دین محمد حنیف په مشری او د اړوندو ارگانونو د استازو په گډون جوړه شوه د اقتصادی مسالو په تیره بیا د هیواد د اقتصادی تاسیساتو او فابریکو د جوړولو په باب خبری اتری وشوی او د هغه د اولویت او ارجحیت له په پام کی نیولو سره نظر څرگند شو.

یو تن قاتل د مزار شریف په ښار کی قصاص کړای شو

یو تن قاتل پرون د مقتول د ورثی لخوا د مزار شریف ښار د سینا په لوبغالی کی قصاص کړای شو .

د مزار شریف له ښار نه د باختر د اطلاعاتی آژانس خبریال خبر راکړ د بلخ ولایت د نظامی محکمی له پریکړی سره سم او د عالیقدر امیر المومنین له تائید او توشیح وروسته د سر پل ولایت د صیاد ولسوالی اوسیدونکی محمد ایوب د عبدالصمد زوی چی ددغی ولسوالی اوسیدونکی عبدالبقا د محمد ابراهیم زوی یی په دی وروستیو وختو ٤ مخ

د کرنی او مالداری له وزارت سره مرسته وشوه

د جرمن اگرو اکشن موسسی د کرنی او مالداری له وزارت سره د کرنی د یوی اندازی سامان الاتو مرسته کړیده.

د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ دغه سامان الات چی ټولټال بیه یی نږدی دوه سوه ملیونه افغانی اټکل شویده د کرنی وزارت د خاوری پیژندنی د لابراتوار او د دارالامان د تحقیقاتی فارم سره مرسته شویده چی د کرنی د تحقیقاتو د انستیتوت د رئیس لخوا په کور ودانی سره ومنل شوه .

مونږ هره ورځ د لشمانیا او ملاریا د ناروغانو درملنی ته تیار یو

محترم داکتر نصیر د جاپان د تودای د کلنیک مسول

د شریعت اونیزی محترمو لوستونکو ! د شریعت اوونیزی خبریال په کابل کی د جاپان د تودای د کلنیک له مسول سره مرکه کړی چی تاسو محترمو لوستونکو ته یی وړاندی کوو.

د ملاریا او لشمانیا د درملنی د جاپان د تودای کلنیک د افغانستان د زوریدلو خلکو لپاره د مرستی په خاطر په ۱۳۷٤ هجری لمریز کال کی په خپل طبی فعالیت پیل وکړ او بیاځنی موخه یی په وړیا توگه ٤ مخ

د امارتی مطبعی د ترمیم کار نږدي بشپړ شوی

د امارتی مطبعی لوی رئیس الحاج ملا محمد موسی

ی ودانی د بریښنا اوبو رسولو او مرکز گرمي اساسي رغونه هم په نظر کي ده

شریعت : امارتی مطبعه چی د تأسیس له وخت نه را وروسته یی د خپل فعالیت په بهیر کی هیوادوالو ته ستری طباعتی چاری تر سره کړی بوه له هغو موسسو څخه ده چی د تیرو خپل منځی جنگ جگړو له امله د راکټی حملو هدف گرځیدلی او د اور په لمبو کی خاوری ایری شوی ده له نیکه مرغه د افغانستان د اسلامی امارت د لوړ رتبه چارواکو د زیاتی او پر ځای پاملرنی له امله په دی وروستیو وختو کی یو ځل بیا ٤ مخ

دلیبیا او چین ترمنځ پوځی مرستو امریکا په تشویش کی اچولی ده

واشنگتن ، رویتر : د امریکی د بهرنیو چارو وزیری مدلین البرایت ویلی چی د چین او لیبیا ترمنځ گډو پوځی همکاریو امریکایی چارواکی په تشویش کی اچولي دی . هغی دغه څرگندونی د امریکی د سنا مجلس بوی کمیټی ته د خبرو په مهال کړی . چین له لیبیایی چارواکو سره د لیری واټن ویشتونکو توغندیو په هکله پوځی مرستی پیل کړی دغه خبر د واشنگتن ټایمز ورځپاڼی خپور کړی په هغه کی راغلی چی چین تیره میاشت له لیبیایی پوځی چارواکو سره د نوی تکنالوجی درلودونکی لیری واټن ویشتونکو توغندیو په برابرولو کی مرسته کړی .

اروپا از پیشروی احزاب اسلامی در بوسنیا جلوگیری مینماید

الشرق الاوسط : سازمان امنیت اروپا سعي دارد تا جلو پیشروی احزاب اسلامی در بوسنیا را بگیرد .

درحالیکه برای موفقیت و پیشروی صرب ها و کروات مسیحی راههای نشان داده میشود که موجب موفقیت آنها گردد در انتخاباتی که در همین اواخر در بوسنیا صورت گرفت حزب دیموکرات صرب برنده انتخابات شناخته شد در حالیکه مؤسس حزب دیموکرات رادوان کرازیچ کسی است که فعلاً از طرف محکمه جهانی به جنایات جنگی محکوم شمرده شده است. ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د انفلاسیون د مخنیوی په اړه :

له هغی ورځی راهیسی چی روسانو زمونږ په گران هیواد نظامی یرغل تر سره کړ او زمونږ ټوله شتمنی او اقتصادی زیرمی یی له خاورو سره خاوری او په سرو لمبو کی وسوځولی، کرهنه او د اوبه خور انتظام یی تباه کړ ، تجارت او راکړه ورکړه یی په ټپه ودروله، صنعت او کارخانی په بشپړ ډول تخریب شوی او هر افغان ته دومره تاوان ورسید چی بیا یی کړوسیو هم پوره نه کړای شو له هماغی ورځی راهیسی یی د خپلو لاس پوڅو گوډاگیو رژیمونو د بقا او پر افغان ولس د هغو د ورتحمیلولو لپاره د جعلی افغانی بانک نوټونو ۲ مخ

اتحادیه اروپا از روسیه شدیداً انتقاد نمود

یک هیأت اتحادیه اروپا از روسیه بخاطر عدم رعایت حقوق بشر در جمهوریت چیچین شدیداً انتقاد بعمل آورده و از روسیه مطالبه نموده است وضع غیر نظامیان در چیچن را بهبود بخشد.

یک هیأت این اتحادیه به از کشور پرتگال هنگام باز دید از منطقه اظهار کرد اقدامهای روسیه جهت گویا کمک به مردم چیچین ص ٤

د هند خلك له سختی وچکالی سره مخامخ دی

د هند په سلگونو زره تنه اتباع له ډیری سختی وچکالی سره چی په تیرو سلو کلونو کی بی ساری و مخامخ دی.

د هند په لویدیځ کی د گجرات او راجستان په دوو ایالتونو کی پراخی سیمی د دویم کال لپاره د وچکالی له امله د خوراکی موادو د څښلو د اوبو او د کرنی د کروندو له زیان سره مخامخی کړیدی. ددغو دوو ایالتونو ټول وګړی څه د پاسه څلور اتیا ملیونو کسانو ته رسیږی چی پنځه ویشت ملیونه یی د وچکالی په سیمو کی ژوند کوی.

په دغو سیمو کی وچکالی دی اندازی ته رسیدلی ٤ مخ

شریعت

د تاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت تر نظر لاندی
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد «فاروق»
دیوی گڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقاله پاتی برخه

په بی دریغه چاپ او خپراوی هم لاس پوری کړی دی او وخت په وخت یی د لس گونو کانتینرو په شمیر افغانی چاپ کړی او خپلو نوکرانو ته ورکړی دی، دا نوټونه چی یو وخت، ترکی، کارمل او نجیب ته چاپیدل او د هر افغان هیوادوال د ژوند ټوله بیه د دوی په کانتینرونو کی پرته وه، اوس له کابل څخه د دوی د نوکرانو او اندیوالانو د تیښتی نه وروسته لا څو چنده زیاتی مسعود او ربانی ته چاپیږی او بیا د چورلکو په ذریعه له مسکو نه پنجشیر ته رارسول کیږی، تر څو له هغه ځایه بیا هغو پلورل شو وجگړه مارو قوماندانانو ته ورکړل شی چا چی د خپل هیواد او ملت ورانی او تباهی ته ملا تړلی او د روسانو د هیلو تر سره کولو لپاره هڅه هاند کوی، په کابل کی د نجیب د رژیم له سقوط نه وروسته چی د ربانی ائتلافی رژیم یی ځای ونیو روسانو په بی ساری ډول زیات نوټونه چاپ کړل چی شمیر یی لس گونو زره ملیاردو ته رسیده، او دا ځکه چی له دوی سره دا ویره وه چی ښایی د مسعود دا لنډی پاچاهی هم ختمه او پر ځای یی د افغانانو د ارادی سره سم یو نظام حاکم شی نو چی دوی هم خپل اندیوالان د پیسو له درکه تیار اکمال کړی او دا ستونزه یی ور حل کړی وی، په دغو پیسو کی به یو زیات شمیر په بهرنیو اسعارو بدلیدی او د پونډو او ډالرو په شکل به د ربانی او مسعود په جیبونو کی پرتی وی، برسیره پردی د ازبکستان له خوا هم دوستم او ملگرو ته یی ښه پریمانه لس زریز نوټونه چاپ او په دی ډول یی د افغانانو اقتصادی ملا ماته کړه، خو هغه لری چی د مسعود له خوا پیل شوی وه لا تر اوسه روانه ده او روسان په دی نامه چی گویا د ربانی حکومت یی په رسمیت پیژندلی او د بانکنوټونو د چاپ ژمنه ورسره لری، ښه پریمانه سکه ورته چاپوی او په دی ډول دوی د اصلاحیت تر لاسه کړی چی د هر افغان په جیب کی شتمنی ورته ناچله کړی دوی د افغانی بانک وتونو په چاپ کی یو داسی نوبنت وکړ چی په نړی واله توگه بی ساری دی، داسی چی هر یو افغانی بانک نوټ یی په عین نمبر د زرگونو په شمیر چاپ او خپور کړ نو اوس چی روسان له یوی خوا جگړه مارو ډلو ته وسلی او گوله باروت ورکوی او له بلی خوا د کانتینرونو په کچ افغانی ورته چاپوی، په خپله دا اټکل وکړی چی د مسعود او مسکو دغی ملگرتیا به افغانانو ته څومره تاوانونه اړولی وی له همدی کبله اسلامی امارت مجبور شو تر څو د دغو جعلی نوټونو د خپریدنی مخه ونیسی او د هیواد ټولو سرحدی ساتونکو او امنیتی چارواکو ته دا ښوونه وکړی چی په دی ډول وارد یدونکی افغانی په بشپړ ډول ضبط کړی، تر څو ددی بی ساری انفلاسیون مخه ونیول شی او گران هیواد وال د روسانو او د هغوی د ملگرو د هغو دسیسو ښکار نه شی چی د دوی د شتمنیو د بی ارزښته کولو لپاره یی په کار اچولی دی، ان شاء الله اسلامی امارت به په دی هکله نور اغیزمن گامونه هم واخلی او د هیوادوالو ددغو مالی ستونزو د حل لپاره به مناسبی لاری چاری وسنجوی، همدارنگه هیوادوال هم په خپل وار دا مسوولیت لری چی ددغو نړی والو توطیو او دسیسو په شنډولو کی ښه پاملرنه وکړی او په ډیر اخلاص د اسلامی امارت د چارواکو سره په هغو اقداماتو کی مرسته وکړی چی د هیواد د اقتصادی پیاوړتیا په ډگر کی یی پلی کوی او دا یو ښکاره حقیقت هم دی چی باید ټول په شریکه د دښمن هغه پلانونه شنډ کړو چی زمونږ د هیواد لا خپلو او د فقر او نیستی سره د مخامخ کولو لپاره یی ترسره کوی او که چیری په سمی ډول ښه دقیق پلانونه ولرو ډیر زر به د دښمنانو دغه حربی هم له کاره ولویږی او افغانان به د لوی خدای جل جلاله په فضل او کرم سره په کور بسیا او د سوکاله ژوند خاوندان شی.

تحریم های اقتصادي و تأثیرات آن

ابو اقدامه

تحریم هاي اقتصادي بر خلاف آرزو ها و آمال سردمداران ظلم و جنایت خود شان را از پاي در آورده است، کلنتن بیش از هر رئیس جمهور دیگر امریکا دست به این عمل وحشیانه زده، که روز به روز در صحنه بین المللي رسوخ تماماً جامعه امریکایي را تحت سؤال قرار مي دهد طلیعه داران ظلم و جفا بر این ایده اند که تحریم هاي اقتصادي عراق و دیگر کشور هاي دنیا بهترین وسیله تأدیب رهبران و سردمداران و حکام این ممالك است ولي تجارب نشان داده است که تحریم هاي اقتصادي علیه عراق کوبا و دیگر کشور هاي جهان عملاً این مطلب را به اثبات رسانده است که بازدهي این تجربه نوین و غیر انساني بالاي حکام این کشور ها و بالعکس مردم و ساکنان این بلاد را از پاي در آورده و تنها مردم بي گناه و مظلوم عالم متحمل این بار سنگین شده اند و آن را به دوش مي کشند.

یکي از مسؤولین ایالات متحده بعد از ۳۲ سال تجربه و مشاهده بالآخره چند روز پیش بغداد را به قصد امریکا ترك گفت، وي در یکي از مصاحبه هاي خود چنین مي گوید « عراق به مثابه حیوان آزمایشگاهي و تجربوي است که داروي تحریم اقتصادي امتحان و تست خود را بر آن با ناکامي و شکست مواجه دیده است لذا باید در پي چاره اي بود و از راهي دیگر وارد شد کلنتن و دیگر پیروان وي تنها کساني هستند که از نتیجه و ثمره، تحریم هاي اقتصادي خوش بین اندزهي جهالت و ناداني.

باور یکي از اقتصاد دانان امریکایي در معهد علوم اقتصادي، خط بطلان و رد بر این فکر خام و پوچ غرب و دیگر بي خردان عالم هستي کشیده و مي گوید : « افراط در تحریم ها، از قیمت و ارزش آن مي کاهد بلکه در نهایت منجر به رهسپاري و بربادي ارزش ها و مکارم اخلاقي مي گردد.

اقتصاددانان تخمین زده اند که در اثر تحریم هاي اقتصادي غرب علیه کشور هاي جهان سالانه ۲۶ میلیارد دالر خسارت مالي به خود امریکا راجع میگردد ده سال تحریم اقتصادي عراق به مقننین و واضعین این بدعت و پدیده شوم قرن، این مطلب را روشن ساخته است که باید در این سیاست پوشالي و پوچ خود تجدید نظر نمایند چرا که هیچ فایده اي عاید شان نخواهد شد.

تحریم هاي اقتصادي کره شمالي، هند و پاکستان ا بعد از آزمایش هاي هسته اي در سال ۱۹۹۸ ضرر ها و خساره هاي فراوان و بي شماري را بر امریکا وارد ساخته که یکي از آنها صادرات مواد زراعتي امریکاست.

خلاصه اینکه تجربه تلخ تحریم اقتصادي عراق ممکن است این تاکتیك را در هر جاي دیگر دنیا با شکست مواجه سازد پارلمان بریتانیا به امریکا این مطلب را گوشزد ساخته است که تحریم هاي اقتصادي، سبب فاقه و ضعف مردم شده، اما سلطه و قدرت نظام حاکم بر آنها را بیش از پیش قوي تر و مستحکم تر مي گرداند.

طبق گزارشات خبري در این اواخر کوفي عنان رسماً از سازمان ملل شکوه نموده و مي گوید سازماني که فقط و فقط براي رسیدگي به امور مظلومان و مستضعفان دنیا تأسیس یافته، هم اکنون مرتکب جرایم و جنایت هاي اخلاقي شده. انتوني کارشناس امور اقتصادي در مرکز استراتیژي جهاني در واشنگتن به این مطلب اشاره کرده که : تحریم هاي اقتصادي بزرگترین شکست و ناکامي است که خانم البرایت در میدان دیپلوماسي خود آن را به منصه ظهور و تحقق آورده است.

فون ناظم کمکهاي بشري براي عراق، اشاره به این نکته نموده که باید در مورد مسأله عراق تغیر موضع داد وي اضافه مي کند که قضیه عراق باید درس پند و عبرتي باشد براي امریکا که تحریم هاي اقتصادي هیچ فایده و ارزشي ندارد وي کامیابي واضعین این فکر خام و جابرانه را در افریقا شکست و هزیمت میداند.

وي اولین کسي بود که کلمه، تحریم اقتصادي همچون معبود دروغین هندو ها یعني گاو در نزدش مقدس بود اما با مشاهده، مدارس و اطفال عراقي و کمبود امکانات کمك درسي و با فقدان آن، از موضعش رجوع نمود.

خلاصه اینکه امریکا و دیگر سردمداران کفر و الحاد بدانند که تحریم اقتصادي این بدعت و نو آوري قرن تمدن و تکنالوژي در هر جاي دنیا قابل تطبیق نیست و بي جهت خود را با این کار بیهوده و عبث خوشحال مي سازند.

د ولس خبري

م. لاروی

داوچ ډاگونه خورا کړی !

دا خبره می له ډیرو هوښیارو خلکو اوریدلی ده چی زمونږ په گران هیواد کی ډیر پراخ او هوار خاورین ډاگونه شته چی که روانی اوبه هم نه لری خو د کاریز او کوهی په کیندلو ډیر ښه خړوبیدلای شی خو سره له دی چی ډیر خلک د ځمکو او ان د اوسیدلو د کورونو له سختی نیستی سره مخامخ دی، بیا هم پر دغو ډاگونو هیچا هم څه غرض نه دی کړی او له هغه وخته راهیسی چی لوی خدای جل جلاله دا ځمکه پیدا کړی ده، دا ډاگونه همساغسی پاتی دی او چا گوتی هم نه دی وروړی، خو هلته په کلی کور او ولس کی خلک په یوه یوه لویشت ځمکه سره خوری، دعوی او لانجی یی وی او په ډیر لږ شی مرگونه سره کوی نو ځکه خلک وایی چی دا مشران ولی ډاگونه پر خلکو نه ویشی تر څو هر سړی ځان ته کور، باغ او پټی جوړ کړی باید چارواکی دا ځمکی خلکو ته ورکړی او دا شرط هم ورباندی کیږدی چی په یو دوه کاله کی به یی ودانوی او کار به وباندی کوی، کنه بیرته به تری اخیستل کیږی. خلک وایی په دی توگه به یو خو ډیرو خلکو ته کار روزگار پیدا شی او هر سړی به د خپل هیواد په آبادی بوخت او دی ته به اړ نه وی چی د هر یهود او هنود دروازی ته ولاړ سوالونه کوی او یا د خپل هیواد دورانولو لا پی ورته وهی او له دښمنانو یو څو پیسی لاس ته راوړی بل دا چی زمونږ زراعتی پیداوار او تولید به زیات او خوراکی اړتیا به مو پوره شی او هغه ورځ به لری نه وی چی ټول هیوادوال مو له خوراکی پلوه په کور بسیا او د پردیو له خیراته وژغورل شی.

له بلی خوا زمونږ هغه یو زیات شمیر مهاجر هیوادوال چی اوس یوازی او یوازی په خپل هیواد کی د کور او ځمکی د نه درلودلو له کبله د پردیسی په کړاوونو کی شپی تیروی هم ډیر زر بیرته هیواد ته راستانه او په خپل کار به لگیا شی نو په دی ډول به وکولای شو تر ډیره بریده د پردیو لاسونه لنډ او د چا د اقتصادی بندیزونو پروا هم ونه کړو او خپل دین عزت، او خپلواکی په ښه شان وساتلای شو، هیله ده د اسلامی امارت چارواکی چی په یوازینی ډول د ټول مجاهد ملت د امید سترگی وراوړی په دی هکله غور وکړی او د هیوادوالو د ستونزو په حل کی چټک گامونه واخلی، او دا ځکه چی اسلامی نظام د عام ولس د خیر ښیگڼی او د الله تعالی د مخلوق د سوکالی او خوشحالی نظام دی او د مخلوق خدمت هم د یو لوی عبادت درجه لری.

ډله ایزی وژنی په کشمیر کی د هندی پوځیانو ورځنی کاروبار

نوشته : داکتر نذیر احمدزي

د هند تر یرغل لاندی کشمیر کی څه د پاسه اوه لکه هندی پوځیان او پولیس د کشمیر د مسلمان ولس په وژلو او ځورولو بوخت دی که څه هم د شمیر په لحاظ هندی ځواکونه ډیر زیات دی خو کشمیری مسلمانو مجاهدینو هیڅکله هم خپله اراده کمزوری نه ده بللی او د ناتوانی احساس ته یی په فکر کی ځای نه دی ورکړی د معتبرو احصائیو په حواله په تیر کال کی د کارگل په سیمه کی د هندی پوځیانو پر سختی ماتی سربیره، کشمیری مجاهدینو څه د پاسه دوه زره او څلور سوه هندی پوځیان دوزخ ته استولی او په زرهاو نور یی ټپیان کړیدی د هندی ځواکونو له ۳۵۰۰۰ ټانکونو څخه ۲۵۰۰ یی یا له کاره لویدلی او یا هم د مجاهدینو د ډزو په لمبو کی وریت شویدی د نوموړی هیواد د هوایی ځواکونو حال هم همدغه شان دی د هند د دفاع وزارت ستر درستیز دغه فیصله کړی چی هر هندی پوځی مسول دی تر څو یو ځلی په کشمیر کی د هندی یرغلگرو پوځونو په لیکو کی شپی سبا کړی که څه هم د هند ولس له اقتصادی پلوه سخت خوار و زار دی او د یوی گولی ډوډی د موندلو لپاره ډیری ستونزی په غاړه اخلی خو لیونی او مست مشران یی هره شیبه پر نورو د یرغل خیالونه په ماغزو کی کښینه پورته کوی له چین سره جنجال لری د نیپال سرحدونه یه کرار نه پریږدی له کشمیر او پاکستان سره په مورچلو کی خبری کوی او له سریلانکا سره هم د ښو مناسبات تو هیله نه لری شپه او ورځ د خپل ولس د خولی مری اخلی او پوځ پری سمبالوی تر څو د دوی لیونی خوبونه ریښتیا او په سیمه کی له هندوستان څخه یو زبر ځواک جوړ کړی په دی وروستیو وختو کی د کلنتن پلویتوب متعصبه هندو مشران نور هم مست کړی او د نورو گاونډیانو تر څنگ له کشمیریانو سره سخت وحشیانه عمل کوی د کشمیر په هره سیمه کی چی په چا او یا کومی ډلی د هندی حکومت خلاف د احساساتو د شتوالی گمان وشی پر هغوی گولی چلوی او له منځه یی وړی ددی تر څنگ هندی یرغلگرو په دی وروستیو شپو ورځو کی د انگریزانو له یوه زاړه خوږ بالی سیاست څخه چی وېل به یی تفرقه واچوه حکومت وکړه کار اخیستی او په اشغالی کشمیر کی یی د توکمیزو اختلافاتو او جگړو د منځته راوړلو په نیت یی ډیرو بی شرمانه او وحشیانه کړو وړو ته لاس اچولی په دی ترڅ کی یی د کشمیری مسلمانانو او هلته د میشته سکانو تر منځ د دښمنی د پیدا کولو په خاطر څو ورځی وړاندی د سکانو په یوی ستری ډله ایزی وژنی لاس پوری کړ او بیا یی داسی تبلیغات په لاره واچول چی دا جنایت د مسلمانانو کار دی تر څو سکان د مسلمانانو پر خلاف را وپاروی او هلته د توکمیزو اختلافاتو د اور په بلولو سره د خپل یرغلگر پوځ پر خلاف کشمیری ولس مخالفت او جهاد یو څه زیاتمن کړی که څه هم مسلمانو مجاهدینو او سک مشرانو نوموړی جنایت د هندی پوځیانو کار وباله خو هندی واکمنو په دی هکله ځانونه پوره بی خبره او بی گناه وښودل او بیا تر دی جنایت په لاسترو سترو وژنو یی لاس پوری کړ او دا په دی قوت چی د امریکی ولس مشر له هغوی سره د زیاتو مرستو وعدی کړیدی او د دوی په گمان د امریکی مرستی هندی حکومت ته له هر راز ستونزو سره د مقابلی توان ور بخښلی شی.

د کشمیری ولس پر لاریونونو او د ښوونځیو او پوهنتونونو د محصلینو پر مظاهرو د هندی پولیسو بیرحمه ډزی هغه څه دی چی هره ورځ یی تر یوال وینی او د کشمیر یو نه یو کور په وینو او ښکو کښینوی خو په ډیر افسوس سره گورو چی نه ملگری ملتونه، نه امریکه او نه نوری په اصطلاح د بشر د حقونو ساتندویه ډلی په دی هکله هیڅ کوم لازم غبرگون نه څرگندوی نو همدا لامل دی چی هندی پوځیانو د ډله ایزو وژنو په ډگر کی ستر جرات تر لاسه کړی او ډله ایزی وژنی د هغوی د یرغلگرو پوځیانو ورځنی کار وبار گرځیدلی چی په اسلامی کشمیر کی یی سرته رسوی د هندی پوځیانو تر یرغل لاندی کشمیر کی د نوموړو داړه مارانو وحشتونو او جنایتونو ته په کتو سره اسلامی نړی او د مسلمانو هیوادونو مشرانو ته ښایی چی د هندی ظالمو یرغلگرو پر خلاف د کشمیر له مسلمان او بیوزلی ولس سره خپله خواخوږی او پیوستون اعلان کړی او د خپلو امکاناتو او وس په چوکاټ کی دی پر هندوانو فشار راوړی له هغوی سره د اقتصادی تجارتی او نورو اړیکو بندیز اعلان او هندی حکومت دی ته اړ باسی تر څو په کشمیر کی خپلو ظلمونو او یرغل ته د پای ټکی کیږدی او د کشمیر د مسلمانانو خپلواکی په رسمیت وپیژنی که خدای مکړه حالات همداسی دوام ومومی او اسلامی امت په دی هکله ځان غیر مسول وگڼی نو د اسلامی نړی د یوه ستر او ښکلی غړی د تباهی ننداره به دوی ته وریاو روښودل شی.

مبارزه تبلیغاتی

غلام سخی «اثمر»

تبلیغاتی مبارزه یا تبلیغاتی کامپاین هغسی یوه مبارزه ده چی هدف او مقصد یی د دښمن پر ضد «فکری مبارزه» او یا د دښمن د ناوړو تبلیغاتو پر ضد مبارزه ده او پدی ډول په همدی چوکاټ کی پروپاګند او د پروپاګند ضد فعالیتونه هم شامل دی.

تبلیغاتی مبارزه دومره اهمیت لرونکی مبارزه ده چی د لویدیزو هیوادونو د پراخی ساحی متخصصین یی د مغزونو د تر اغیزی لاندی راوړلو مبارزه هم یادوی.

که نړی په تکنالوژیکی او علمی لحاظ خورا هم پر مختګ وکړی او لکه چی ویل کیږی یوویشتمه پیړی به د بشریت لپاره داسی لاسته راوړنی ولری چی اوس یی تصور هم نشو کولای، خو بیا هم بی له شکه له دی پرمختګ سره تبلیغاتی ډګر هم پراخ او د لا اهمیت وړ وګرځی .

پدی لړ کی یله اصطلاح چی نوی راپیدا شویده هغه دا ده چی ان راتلونکی جګړی به هم په عمده توګه د معلومات د جګړی په نوم یادی شی. متحدینو د خلیج په وروستی جګړه کی چی د عراق پر ضد وشوه د همدی ډول جګړی نه هم کار واخیست ، پدی ډول چی عراقی قوماندانان به هیڅ نه پوهیدل چی ولی د دوی د مخابری عادی او ان الکترونیکی شبکی کار نکوی. الوتکی ولی نافرمانی کوی خو وروسته د دوی متخصصین پدی پوه شول چی د (انفو وار) یا دمعلوماتو د جګړی سره مخامخ دی. متحدینو به د عراقیانو ټولو ارتباطی شبکو ته چی پوهان ورته په جګړه کی «عصبی سیستم» وایی یا له کاره غورځول او یا غلط معلومات ورته خپاره کول په واړو صورتو کی د ارتباط شبکه له فعالیته ووتله .

پو هان د ی جګړی ته هم تبلیغاتی جګړه وایی په نړی کی هیڅ هیواد او ملت نشته چی تبلیغاتی مبارزه ونلری د واقعی ماهیت په لحاظ باید دغه مبارزه، مبارزه نه وی بلکه هڅې وی خو پدی خاطر چی اوسنی نړی د ګټور تقابل نړی ده نو خامخا دغو کوښښونو ته د تبلیغاتی مبارزی نوم ورکړ شوی دی چی یوازینی وسله یی توری (حروف) دی نو کله کله ورته د «تورو جګړه» یا د «تورو مبارزه» هم ویل کیږی د دښمن د تبلیغاتو پرضد مبارزه هم په اصل کی تبلیغاتی مبارزه ده خو څه شانته تعرضی کرکتر لری ځکه د تبلیغاتی تعرض په مقابل کی تبلیغاتی مبارزه تر سره کیږی نه یوازی تبلیغات.

خو اساسی او بنسټیز اصل پدی دواړو ابعادو کی دادی چی مونږ د تورو او کلماتو سره سرو کار لرو، نه د ګرمو وسلو سره نو پدی ډول په دواړو صورتونو کی دا کلمات او توری داسی باید وتلل شی چی نه د مقابل لوری سپکتیا پکی نغښتی وی او نه د هغه د- تبلیغ لپاره ضعیفه موضعګیری وی یعنی پر مفهومه او په عین حال کی په دقیقو او منطقی کلماتو پر دښمن باندی ګوزار د وسلی د ګزار نه پیاوړی وی، لوی متل دی چی کله کله کلمات د ټانګونو څخه زیات تاثیر لری او دغه اصل په خاصو پړاوونو کی د خورا اهمیت وړ دی.

په تبلیغاتی ګوزارونو کی اصلی ضربه د یوی ټولنی د غړو فرهنګی ارزښتونه او فکری سیستم ته متوجه وی که دغه سیستم «ژوبل شی» یوه داسی ناروغی ورنه را منځ ته کیږی چی په سترګو نه لیدل کیږی خو په خورا چټکی سره یوه فکری ارتباطی شبکه ورنه جوړیږی اخته کسان یو بل ته وایی او پدی ډول د یوی ټولنی عمومی «فکری سیستم» ته زیان رسیږی د تبلیغاتو د پلان جوړونه د عادی خلکو کار نه دی ، ددی کار لپاره متخصص پکار دی چی بایی پدی عرصه کی تحصیل کړی وی او یا یی له لوړو تحصیلاتو پراخه تجربه ولری او یا د لوړ استعداد خاوند وی .

د تبلیغاتی مبارزی اصلی وسیله ډله ییز وسایل دی د هیوادونو د زعامت بنه هر څه ډول چی وی دا د هر هیواد حق دی خو هیڅ هیواد به ونه توانیږی چي ډله ییزو وسایلو ته لږ اهمیت ورکړی .

تبلیغاتی اساسی اصول : له ټولو نه لومړی باید تبلیغ کونکی پدی پوه وی چی د څه لپاره او د چا پر ضد او یا په ګټه او یا کاملاً بیطرفانه تبلیغات کوی که داسی نه وی نو کیدلای شی چی د یوی تبلیغاتی هڅی «قربانیان» زیات شی او یا «تبلیغاتی غشی» پر هدف ونه لګیږی.

دوهم اصل دا دی چی پورتنی اصل تحلیل کیږی او مخکی له دی نه چی لاری ته واچول شی د ذره بین» کتنه ورته کیږی یعنی خورا دقیقه کتنه دریم اصل دا دی چی بیا په تبلیغاتی کار لاس پوری کیږی کیدلای شی دغه تبلیغات سوله ییز، ګوزارونه ... او یا بیطرفانه تبلیغات وی دغه تبلیغات په ذهنونو کی اغیزه کوی، بنه نیسی او بی له شکه د مقابل لوری لخوا د عکس العمل سره مخامخ کیږی دا نو د مقابل لوری په پوهی او سیاسی زیرکی پوری اړه لری چی خپل عکس العمل څه ډول تنظیموی : هغه هڅه کوی پدی جګړه ، مبارزه او یا فکری تقابل کی وړونکی شی ؟ نو پدی ډول د تورو او کلماتو وزن ته ګوری او لکه یو ماهر زرګر تله لاس کی اخلی او د خپل تبلیغاتی عکس العمل نتایج مخکی له مخکی اټکل کوی او تلی یی او بیا په عمده توګه د راډیو، تلویزیون او یا ورځپاڼو لخوا نه عکس العمل ښکاره کوی کله کله دغه عکس العمل دومره منطقی او په عین حال کی «هدف ویشتلای شی» چی د تبلیغ کورنګ [illegible] تبلیغاتی ماشین ته سخت [illegible] رسوی.

د تبلیغاتی چارو وروستی اصل تجدید نظر دی : یعنی [illegible] تبلیغاتي کار باندی نوی نظر اچوی نوی چوکاټونه او [illegible] ورته برابر وی په دیپلوماسی کی یوه ډیره مشهوره اصطلاح [illegible] دیپلوماسی ده په [illegible] دیپلوماسی کی چی عمومی [illegible] یی بی څنډه دیپلوماسی [illegible] دیپلوماسی کار داسی [illegible] رسمیږی چی دیپلومات [illegible] دیپلوماتیکی فعالیتونه [illegible] نه منی او پدی ډول په ډیره [illegible] کی دیپلوماسی مشهبته [illegible] ورکوی. په تبلیغاتو کی [illegible] ددی معنی لری چی د دښمن ګزار [illegible] پر انسان ویګړی «نفسی تیوته» [illegible] پیدا کړی او بیا د هغه په مقابل [illegible] کی تبلیغات وشی دا ډول تبلیغات [illegible] حتماً د ناکامی سره مخامخ کیږی [illegible] او دیپلوماتیکو هلو ځلو [illegible] منطقی قرینی تپی کوی [illegible] بحث کی ښایی په پای [illegible] شی چی تبلیغاتی مبارزی [illegible] کامپاین دوام دار [illegible] متونکی فعالیت دی.

ذکري پیرامون پدیده ها و آثار فرهنگي کشور!

خواننده گان عزیز آگاهي دارند که امارت اسلامي افغانستان پیوسته سعي ورزیده است تا نه تنها پدیده ها و میراث هاي فرهنگي کشور را به مثابه، دستآورد هاي ناب و تاریخي هر برهه زمان و تاریخ بي بدیل سرزمین افغانها، حفظ و معرفي بدارد بلکه عرصه هاي مختلف تاریخ و آثار باستاني آنرا به منظور آگاهي جوانان، هموطنان و نسل هاي بعدي به معرفي گیرد. بدین ملحوظ ضرورت مبرم محسوس مي شود تا هر پدیده باستاني در مقام و حالات موجوده اش به منوال اصل اساسي افتخارات کشور در سطح جامعه مان و همانطور فراتر از آن در سطح بین المللي با امتداد کشفیات و فر آورده هاي علمي در دست تحقیق و پژوهش قرار دهد. با وجودیکه حوادث چند دهه اخیر زیان هاي بزرگي بر پدیده ها و پیکره هاي آثار فرهنگي وارد آورده امارت اسلامي افغانستان با التیام بخشیدن این حالت نه تنها در احیا، و باز سازي موزیم ها بویژه موزیم ملي کابل سلسله تدابیر و فعالیت هاي عملي را از طریق وزارت اطلاعات و فرهنگ و موسسات علمي و تحقیقي انجام داده و موفق به دستاورد هاي شایاني گردیده ، بلکه تصمیم اتخاذ نموده تا در پرتو فرمان عالیقدر امیر المؤمنین و مصوبات ریاست الوزرا، امارت اسلامي افغانستان پیرامون حفظ آثارو پدیده هاي باستاني اقدامات عملي و علمي را انجام بدهد. به تأسي از این اصل تداوم نشر محتواي آثار باستاني، پدیده ها و میراث هاي فرهنگي کشور را که براي عموم به گونه، مطالب مقدماتي قابل فهم و معرفي باشد، بصورت جزوار در دست طبع قرار میدهد.

آثار و پدیده های تاریخی و فرهنگی افغانستان باستان

کتیبه ۲۵ سطري سرخ کوتل

قبل از آنکه در مورد کتیبه، ۲۵ سطري سرخ کوتل به مثابه، اثر مکشوفه فرهنگي و تاریخي ساحه، بغلان صفحات شمال کشور چیزي بنگاریم ضرورت است تا بغلان این منطقه باستاني را به توضیح و معرفي مختصر بگیریم.

بغلان در گذشته ها به اسم بغلانو، بگولانگو مسمي بوده و این نام از وراي متن کتیبه، ۲۵ سطري سرخ کوتل بوضوح استخراج گردیده است. بغلان شهرك خورد و زیبا در دهن غوري به فاصله ۱٦ کیلو- متري جنوب غرب پلخمري در محل ایکه آنرا (دهانه شیر) یاد مینمایند موقعیت احراز نموده است و سرخ کوتل در همین موقعیت قرار دارد.

نخستین رسم الخط ایکه در پهناي تقریباً مربع شکل ایکه توسط باستانشناسان کشف گردید به زبان باختري و نوشته یوناني بوده و در روي سنگ آهك نقر گردیده است. کتیبه مذکور از چپ به راست هم نوشته شده و هم از چپ به راست مورد خوانش قرار مي- گیرد بعضي از محققین این متن کتیبه را که متعلق به دوره، عظیم کوشاني هاست زبان کوشانیان میدانند. طول این کتیبه ۱۲۰ سانتي متر و عرض آن بیش از ۸۰ سانتي متر و بیش از ۱۲ متر ضخامت دارد. این کتیبه آخرین مکشوفه ساحه باستاني سرخ کوتل میباشد.

رسم و عنعنه اینطور بود که در گذشته هاي دور، شاهان و حکماي باختر قدیم ، یا خراسان قدیم، هر کار بزرگ و قابل لمس را که در یکدوره خاصي از زمان و به منظور یك حالت خاص مذهبي، سلطنتي ، رزمي و یا [illegible] انجام میدادند، براي یاد [illegible] عملکرد هاي نیکو و یا [illegible] براي فهمانیدن نسل هاي آینده [illegible] زبان فهم سطري یا نگارشي (کتیبه ها) تمامي مقدار و اندازه [illegible] عملکرد دوران خویش را حك و [illegible] مي کردند، چه مهم نیست که این عملکرد ها یا یادگار هاي [illegible] در سنگ ها باشد، یا در پوست [illegible] و یا اشیاي دیگر، چون این کتیبه به مناسبت جریان آب و ترمیم ساختمان شاهي و مذهبي سرخ کوتل نوشته شده، متن این کتیبه واقعه و حادثه این برهه تاریخ کوشانیان را که در عصر امپراتري کنشکا و [illegible] بعد از آن در عصر هوشیکا صورت گرفته بود، مجسم گردیده است تاریخ این کتیبه را همزما با ساختمان [illegible] آبده تاریخي سرخ کوتل همزمان دانسته [illegible] میتوان آنرا چندین سال بعد نسبت به اصل ساختمان سرخ کوتل تاریخ گذاري [illegible] دانشمندان نوشتن این کتیبه را در [illegible] دوم میلادي میدانند و متذکر [illegible] ترمیم و اعمار آبده سرخ کوتل [illegible] تاریخي را در بر گرفته است که [illegible] مهندسي دوره یوناني ها ، [illegible] بصورت واضح نمودار گردیده است .

پاتي: امارتي مطبعې

ددغې مطبعې د ودانیو د ترمیم کار پیل او ډیر ژر به بیا ترمیم او ګټې اخیستنې ته اماده شي. زمونږ خبریال د موضوع په ارتباط ددغې مطبعې له رئیس محترم الحاج ملا محمد موسی سره مرکه کړې او دا رپوټ برابر کړی چې ستاسو د مطالعې لپاره یې نشر ته سپارو. په پیل کې محترم الحاج ملا محمد موسی داسې وویل: د امارتي مطبعې لپاره په ١٣٤٠ هـل کال کې یوه ښکلې عصري ودانۍ د هغه له ملحقاتو سره چې هنګرونه تولیدي شاپونه او... پکې شامل دي د نږدې ٦٥ ملیونو افغانیو په لګښت د مکروریانونو په سیمه کې جوړه او په ١٣٤٤-١٣٤٥ کال کې یې په فعالیت پیل وکړ.

ددغې ودانۍ ساختماني چارې د افغاني ساختماني دستګاه له خوا تر سره شوې ددې موسسې انتفاعي سرمایه ٥٠٠ ملیونه افغانیو ته رسیده په دې مطبعه کې د حروفي چاپ ټول ٢١٠ پایې مدرن ماشینونه منتاژ شوي و.

ده زیاته کړه امارتي مطبعه چې سراسر په عصري او مدرنه ټکنالوژۍ سمبال وو په ١٣٧٠ کال کې یې تولیدي پلان د ډاپ په سایز ٥٠ ٦٥ کې وچې د هیواد په کچه یې د ټولو امارتي او خصوصي ادارو اړتیاوې پوره کولې او د بیلابیلو ولایتونو د مطابعو اړتیاوې یې هم د طباعتي موادو له بابته پوره کولې. له بده مرغه دغه ډیره ستره مطبعه د هغې له ټولو شتمنیو سره د تیرو خپل منځي جنګ جګړو له امله د ١٣٧١ کال د غویي د میاشتې په ٨ مه او د همدې کال د زمرې د میاشتې په ٢٠ مه او بیا هم د همدې کال د زمرې د میاشتې په ٢٨ مه نیټه د اور په لمبو کې خاورې ایرې شوه. چې له دې امله دغې موسسې ته د ملیونونو ډالرو په ارزښت زیانونه ورسیدل. ددغې مطبعې ښکلې ودانۍ ته هم سخت زیانونه ورسیدل چې د بیا رغونې چارې یې یوولس ملیونو ډالرو ته اړتیا لري. امارتي مطبعې په هیواد کې د بدترینو شرایطو په مهال هم وکولای شول چې د خپلو تکړه او مجربو کارکوونکو په مرسته خپل فعالیت جاري وساتي.

دې زیاتوي چې د امارتي مطبعې د پنځه پوړیزې ودانۍ او نورو ودانیو د ترمیم او بیا رغونې چارې د پلان او فواید عامې د وزارتونو په همکارۍ د پما د ریاست له خوا پیل شوې تر اوسه پورې د پنځه پوړیزه ودانۍ د ترمیم چارې پای ته رسیدو ته نږدې شوې او ډیر ژر به یې د برېښنا رسونې او اوبو رسونې، لفټ او مرکز ګرمۍ شبکې هم فعال کړې شي.

په پای کې د امارتي مطبعې رئیس محترم الحاج ملا محمد موسی وویل څرنګه چې د امارتي مطبعې د پنځه پوړیزې ودانۍ د ترمیم چارې تر ډیره حده تر سره شوې نو دغه ودانۍ د استفادې وړ ګرځیدلې او تر وسه پورې په دې ودانۍ کې د شریعت اونیزې، هیواد، انیس، کابل تایمز، بیهقي، د ورځپاڼو د توزیع او د خپرونو، ریاستونه او د شعر او ادب آمریت او نور د امارتي مطبعې د ریاست په ګډون ځای په ځای شوي. د امارتي مطبعې ریاست د نوموړې پنځه پوړیزو ودانۍ د کار له پای ته رسیدو وروسته په پام کې لري چې یو شمیر هنګرو نه هم له سره جوړ او د تخنیکي او خامو موادو د تدارک په برخه کې به هم لازم اقدامات وکړي.



په امریکا کې د غاښونو ډاکتر د ناروغانو هډوکي ورماتوي

نیویارک کـ.ف.پ: د امریکا د نیوجرسي ایالت قضایي چارواکو د غاښونو د یوه ډاکتر کتنځی په موقتي توګه وتاړه نوموړی ډاکتر ته معمولاً د بیوزله کورنیو ماشومان د علاج لپاره مراجعه کوله او د هغوی د معالجې په مهال یې له سخت تشدد نه کار اخیست ددې لپاره چې ماشوم د غاښ ایستلو په وخت کې له ځایه پورته نشي په طبي کرسیو پورې یې دومره ټینګ تاړه چې هډوکي یې بې ځایه او مات شي غاښ ایستلو په وخت کې د ناروغو ماشومانو زامې دومره ټینګې تړې چې هغوی ونشي کولای د غاښ ایستلو په وخت کې له خولې غږ وباسي او چیغې وکړي.

په اسپانیا کې د موزیم مسول ٤٠٠٠ ټوټې لرغوني اثار غلا کړل

په اسپانیا کې د برشلونې د ښار پولیسو خبر ورکړ چې هغوی ددې ښار د موزیم هغه چارواکی نیولی چې له نوموړي موزیم څخه یې ٤٠٠٠ ټوټې لرغوني آثار غلا کړي.

د موزیم ٥٢ کلن چارواکي د خپل درې کلن ماموریت په دوره کې پدې وتوانیده چې په پټه له نوموړي موزیم نه قیمتي لرغوني اثار وباسي او وېې پلوري. د نوموړي مسول دغه غلا هغه وخت افشا شوه چې د ښار په دوکانونو کې د موزیم ملکیت دغه لرغوني اثار د پلورلو په حالت کې ولیدل شول.

د پردي زړه لرونکي ماشوم مخ په رغیدو ده

د انګلستان په شمال کې یوه شپږ کلنه ماشومه چې د ډاکترانو له خوا ورته بل زړه ورته پیوند شوی اوس مخ په روغیدو ده. کله چې د مریضې ماشومې پلار ته د روغتون د ډاکترانو لخوا وویل شول چې لور یې په قلبي ناروغۍ اخته ده او باید زړه یې ورته تبدیل شي کنه ژوند یې له خطر سره مخامخ دی. پلار یې د محلي تلویزیون له لارې له خلکو نه وغوښتل چې د هغه د لور په نجات کې ورسره مرسته وکړي هغه وچې یو کس دې ته حاضر شو چې خپل زړه یې د هغه ناروغې لور ته وبښه او ډاکترانو په ٤٨ ساعتو کې هغه ورته نصب کړ.

د فریمان روغتون ویندوی اعلان وکړ چې د قلب د تبدیلي عملیات په بریالیتوب سره تر سره شول خو په راتلونکي کې ښکاره نه ده چې دغه نوی بدن به له پردي زړه سره تر کومه ځایه موافقه وکړي.

بقیه: اظهارات نطاق ...

بهره اند.

توصیه ما به این همسایگان این است که بجای دست زدن به اعمالیکه فقط به افزایش تشنج در منطقه کمك میکند اگر راه تفاهم با امارت اسلامی افغانستان را در پیش گیرند بیشتر به نفع آنان خواهد بود اگر کمك بدوام جنگ در افغانستان میتوانست منتج به نتیجه دلخواه آنان گردد تا کنون این امر تحقق یافته بود امارت اسلامی افغانستان یکبار دیگر دست دوستی و تفاهم بسوی همه کشور های جهان بخصوص کشور های همسایه دراز نموده و بار دیگر اطمینان خود مبنی بر عدم مداخله در امور داخلی کشور های دیگر را تکرار میکند.

بقیه: بانکنوت های ...

زمینه کار و فعالیت برای هموطنان یاد آوری نموده علاوه نمود که امارت اسلامی جهت رفع مشکلات هموطنان و رشد و تقویه اقتصادی کشور در بخشهای صادراتی و وارداتی انحصار امارتی را در بسا موارد رفع نموده که بگونه مثال رفع انحصار امارتی تورید مواد ارتزاقی مواد نفتی شکر و ایجاد شرکتها و فابریکات خصوصی از این جمله میباشد. همچنان جهت وضع اقتصادی مامورین امارت اسلامی در سال ١٤٢١ افزایش قابل ملاحظه را در معاشات ایشان بعمل آورده و با گذشت زمان و ایجاب شرایط در افزودی معاشات تصمیم اتخاذ خواهد گردید.

پاتي: د تحصیلي موسسو ...

محترم نعماني زیاته کړه سږ کال د لومړي ځل لپاره د کانکور د ازموینې د اخیستلو په برخه کې نوښت را منځته شویدی د مدرسو له فارغانو څخه د کانکور آزموینې د هیواد د مرکز او ولایتونو په اتو حوزو کې په یوه ورځ واخیستل شوې او په پام کې دي چې د مفرداتو لرونکو پوهنتونونو ټول درسي پروګرامونه او پلانونه او توحید شوي درسي کتابونه عیار او د لوړو زده کړو وزارت په طباعتي دستګاه کې چاپ او د تحصیلي موسسو په واک کې ورکړل شي.

پاتي: د هند خلک له ...

ده چې د لسو زرو بانډو اوسیدونکي د څښلو د اوبو د برابرولو لپاره څو کیلو متره لاره وهي. د اوبو د کمښت سخت بحران دغه حالت د ګجرات او راجستان په ایالتونو کې پنځه دیرش ملیونه څاروي د مړینې له ګواښ سره مخامخ کړیدي.

حکومتي مقاماتو تر اوسه له دغې وچکالۍ نه د رسیدلو تاوانونو په اړه چوپتیا غوره کړیده.

پاتي: په ننګرهار کې ...

خلکو سربیره د ننګرهار ولایت د مخدره موادو د اداري د کنټرول او سمون محترم رئیس او د چارو یو شمیر مسولینو هم ګډون کړی و. دغه کمپاین په دغې ولسوالۍ کې دوام لري.

پاتي: یو تن قاتل د مزار ...

کې وژلی و پرون د مزار شریف د سینما په لویغالي کې ددغه ښار د زرګونو تنو محترمو ښاریانو په وړاندې د مقتول د ورثې لخوا قصاص کړای شو. قاتل چې د قتل له کولو وروسته د امنیتي موظفینو لخوا نیول شوی و د تحقیق په بهیر کې په خپل جرم اعتراف وکړ او نظامي محکمې د قصاص پریکړه وړاندې صادره کړې وه. چې پریکړه او د قضیې بهیر د نظامي محکمې د مرستیال محترم مولوي عبدالقدوس لخوا حاضرینو ته ولوستل شو.

پاتي: مونږ هره ورځ د ...

له ناروغانو سره طبي مرسته ده.

په کابل کې د جاپان د تودای د کلنیک مسول محترم ډاکتر نصیر وویل: د تودای کلنیک د جاپان د هیواد په مالي مرسته جوړ شوی او د محترم الحاج محمد قاسم خان «زماني» تر نظارت لاندې خپل طبي فعالیت سرته رسوي چې د کلنیک ټول فعالیتونه د محترم زماني له خوا تنظیمیږي. دغه کلنیک د ملاریا او لشمانیا په برخو کې خپل طبي پروګرامونه پرمخ بیایي او ددغو ناروغیو د ناروغانو په خدمت کې دی.

ده زیاته کړه چې په راتلونکي کې زمونږ پلان دی چې نوموړي کلنیک ته پاختیا ورکړو او د هیواد په نورو سیمو کې چې د ملاریا او لشمانیا له ناروغیو نه ځوریږي خپل طبي فعالیتونه پیل کړو. په کابل کې د تودای په کلنیک کې ښځینه ناروغان او هغه هلکان چې عمر یې له اوو کلونو نه لږ وي تر درملنې لاندې نیول کیږي.

په دې کلنیک کې ټول ١٤ تنه طبي پرسونل په کار بوخت دي چې ټول یې زمونږ افغانان ورونه او خویندې دي. په نوموړي کلنیک کې د O.P.D فارمسي، لابراتوار او د زرقیاتو ځانګړې فعالیت لري.

محترم ډاکتر نصیر په پای کې وویل: په ډیر ویاړ سره ویلی شم چې زمونږ ټول طبي فعالیتونه د افغانستان د اسلامي امارت د عامې روغتیا د وزارت تر لارښونو لاندې پرمخ ځي او د افغانستان اسلامي امارت د خپل انسان دوستانه کړنلارې له مخې زمونږ د طبي فعالیتونو لپاره هر ډول زمینې برابرې کړي او پدې باب یې زمونږ سره ډیرې همکارۍ کړې دي.

بقیه: اتحادیه اروپا ...

ناکام میباشد.

وی از مسؤولین روسیه خواستار همکاری با اتحادیه اروپا در این رابطه گردید.

این انتقاد در زمانی بعمل می آید که نیرو های روسیه بصورت وحشیانه به عملیات نظامی خود در جنوب جمهوریت چیچن ادامه میدهد.

بقیه: اروپا از پیشروی ...

همچنان در مناطق کروات نشین حزب دیموکرات کروات برنده انتخابات گردیده و موسس این حزب کسی است که تقسیم جمهوریت بوسنیا نقش بارزی ایفا نمود موقف سازمان اروپایی سوالهای زیادی در اذهان مردم می پروراند که چرا باز هم آنها از تشکیل یک دولت آسیایی در قلب اروپا نمناک اند در حالیکه هیچ احتمال تشکیل یک دولت اسلامی در آنجا باقی نمانده چرا اروپا سعی دارد احزاب اسلامی در انتخابات با شکست مواجه شوند در مقابل آن همه احزاب ناسیونالیستی صرب و کروات به پیشروی های بزرگ نایل گردند.

د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

تبصره

تهدید و خطر!!

قرار گزارشات رسانه های خبری به تعقیب سفر خانم میدلین البرایت وزیر امور خارجه ایالات متحده امریکا به بعضی از کشور های آسیای میانه و اظهارات غیر مسؤولانه و غیر واقعبینانه وی در مورد اوضاع منطقه رؤسای جمهور کشور های تاجکستان ازبکستان، قرغزستان و قزاقستان در مرکز جمهوری ازبکستان گرد هم آمده و غرض خوشنودی قصر سفید و کرملین بالای موضوعات به اصطلاح تروریزم، تجارت مواد مخدر و بعضی امور دیگر بحث نمود و بالآخره اعلام داشتند که خطراتی چون تروریزم، تجارت مخدرات و بنیادگرایی آسیای میانه را به اصطلاح تهدید نموده و گویا که این خطرات از جانب امارت اسلامی افغانستان متوجه آنان گردیده است رؤسای جمهور کشور های مذکور که از جمله کمونیست های اسبق بوده اکنون نیز از یك جانب بنا بر وابستگی های فکری و نظامی از فدراسیون روسیه دستور اخذ کرده و از جانب دیگر نسبت نیازمندیهای اقتصادی مجبوراً در دامن امریکا سقوط نموده و چشم به جانب مساعدتهای قصر سفید دوخته اند بناءًخواهی نخواهی آنها باید در هر اقدام و هر قدم رضایت خاطر روسیه و امریکا را مد نظر گرفته و مطابق منافع و خواسته های آنها پالیسی خویش را عیار سازند!! حال که آنها آسیای میانه را به اصطلاح بنا بر انتقال مواد مخدر تروریزم و یا بنیادگرایی از جانب افغانستان در معرض خطر محسوس مینمایند کدام فیصله و موضوع قابل تعجب نیست و باید که آن «مظلومان» چنین ابراز نظر نمایند زیرا از یك جانب همه اوشان دست پروردگان شرق و غرب بوده و از جانب دیگر دانسته اند که اگر بر خلاف امیال روسیه و امریکا لب بر کلام بکشایند از جانب آنها مورد قهر و غضب قرار گرفته و با تهدیدات مختلف مواجه خواهند شد اگر به حقیقت موضوع توجه صورت گیرد فدراسیون روسیه با موجودیت ده ها هزار عساکرش در امتداد سرحدات تاجکستان، افغانستان همه آن کشور ها را در محاصره نظامی خویش قرار داده و به بهانه اینکه کشور های مذکور به اصطلاح مورد تهدیدات تروریزم و غیره از جانب افغانستان قرار خواهد گرفت سیطره نظامی خویش را در منطقه تداوم بخشیده و بدینگونه بعد از سقوط اتحاد شوروی و آزادی نسبی کشور های آسیای میانه باز هم همه آن کشور ها را در چنگال خونین خویش محصور نگهداشته است و ایالات متحده امریکا نیز به منظور اینکه توانسته باشد در مقابل توسعه طلبی روسیه در منطقه برای خود نیز جای پا کسب نموده و از منابع وافر طبیعی آسیای میانه مستفید گردیده با مساعدتهای پیاپی با حکومات جمهوری های قبل الذکر از یك جانب آنها را مدیون احسان خویش ساخته و از جانب دیگر تحت عنوان تهدیدات از جانب افغانستان کشور های مذکور را که اکثریت ساکنین آن مسلمان بوده و خواهان داشتن روابط دوستانه و برادرانه اسلامی با ملت افغان می باشند از ایجاد تعلقات و روابط با افغانستان باز داشته و نمیگذارند تا کشور های متذکره اسلامی برای ابد از چنگال ظالمانه قوتهای استعماری شرق و غرب نجات یافته و هویت اسلامی خویش را یکبار دیگر در منطقه مشخص و معرفی سازند.

امارت اسلامی افغانستان چنانچه در عمل ثابت ساخته است همه انواع تروریزم مخالفت شدید و عملی خویش را اعلام داشته و در این راستا از هیچنوع تلاش و مساعدت با دیگران دریغ نورزیده و آماده همکاری میباشد همچنان امارت اسلامی افغانستان تلاشهای گسترده ای در راه قلع و قمع کشت و تولید مخدرات براه انداخته و به همکاری مجامع بین المللی در زمینه چشم براه می باشد و بالآخره مردم افغانستان در نتیجه تجاوز ارتش سرخ و جنگهای سالهای اخیر با مشکلات فراوانی مواجه بوده و غرض حل مشکلات شان و استقرار صلح و آرامش در منطقه و جهان با همه جهانیان خصوصاً با ممالك همسایه و منطقه حاضر به تفاهم و همکاری بوده و هیچگاه در امورات داخلی دیگران قصد مداخله را نداشته و ندارد و بدیگران نیز اجازه چنین اعمال را نخواهد داد. اینکه ملتهای جمهوریت های آسیای میانه به اسلام که دین هزار و چند صد ساله شان است دو باره مایل گردیده و به آن گرویده اند از جمله حقوق و خواسته های خود آنها بوده، هیچکدام صبغه دیگر نداشته و این موضوع مربوط خود آن ها می باشد خواهش و توقع ما از رؤسای جمهور و ملت های مسلمان آسیای میانه و غیره کشور هایی که در نتیجه دستورات دشمنان افغانستان و مخالفین اسلام بر علیه امارت اسلامی افغانستان تحریك میگردند اینست که آنها باید در روشنی واقعیت ها و حقایق همه موضوعات مسایل را بررسی نموده و اگر کدام زمان نشانه از انجام کدام عمل مخالف منافع خویش را از جانب ما متصور گردیدند با امارت اسلامی در تماس شده ان شاء الله که با استفاده از ارشادات اسلامی و نیازمندیهای همجواری مسالمت آمیز با آنها برخورد صورت گرفته و با آنها هر نوع همکاری صورت خواهد گرفت. توقع ما اینست تا کشور های مذکور سرحال آمده تهدیدات و خطرات واقعی را تشخیص نموده و کسب سیاست و پالیسی نمایند آنها باید بدانند که تعقیب پالیسی ها و فرمایشات روسیه و امریکا هیچگاه آنها را سعادتمند نخواهند ساخت.

SHARIAT WEEKLY
Published by:
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirat Printing Press